ماشومانو لپاره

# اِسلامي عقیده

د سوال او
ځواب په بڼه



لیکوال
مولوي عبید الله مسلم

حنفی شافعی
بسم اللہ الرحمٰن الرحیم
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل
اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔
کفایت اللہ ابن صدیق
easypaisa
+923052488551
+923247442395
مالکی حنبلی

## ماشومانو لپاره

# اسلامي عقیده

## د سوال او ځواب په بڼه

لیکوال
مولوي عبید الله مسلم

مسلم
جلال اباد - افغانستان

د چاپ حقوق له خپرندویې
ټولنې سره خوندي دي

**کتاب پېژندنه**

د کتاب نوم : ماشومانو لپاره اسلامي عقیده
لیکوال : مولوي عبید الله مسلم
خپرندوی : مسلم خپرندویه ټولنه - جلال اباد
کمپوز : مصلح الدین حامد
چاپ کال : ۱۳۹۸هـ ش
چاپ شمېر : ۵۰۰۰ ټوکه
چاپ وار : اتم
د خپرونو لړ : ۲۱۴

د ترلاسه کېدو ځای
**مسلم کتاب پلورنځی**
پته: اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پور،
جلال اباد ښار، افغانستان
۰۷۷۸۰۸۰۴۹۰ - ۰۷۹۳۰۷۳۰۸۰

# الله جل جلاله

**پوښتنه: ته څوک یې؟**
**ځواب: زه مسلمان یم.**
**پوښتنه: ته د چا بنده یې؟**
**ځواب: زه د الله تعالی بنده یم.**
**پوښتنه: ته چا پیدا کړی یې؟**
**ځواب: زه الله تعالی پیدا کړی یم.**
**پوښتنه: انسانان چا پیدا کړي دي؟**
**ځواب: الله تعالی پیدا کړي دي.**
**پوښتنه: ځمکه او اسمانونه چا پیدا کړي دي؟**
**ځواب: الله تعالی پیدا کړي دي.**
**پوښتنه: غرونه او سیندونه چا پیدا کړي دي؟**
**ځواب: الله تعالی پیدا کړي دي.**
**پوښتنه: لمر، سپوږمۍ او ستوري چا پیدا کړي دي؟**
**ځواب: الله تعالی پیدا کړي دي.**
**پوښتنه: نباتات او حیوانات چا پیدا کړي دي؟**
**ځواب: الله تعالی پیدا کړي دي.**

# عبادت

**پوښتنه:** مونږ چا پیدا کړي یو؟
**ځواب:** الله تعالی پیدا کړي یو.
**پوښتنه:** الله تعالی مونږ د څه لپاره پیدا کړي یو؟
**ځواب:** د خپل عبادت او بنده ګۍ لپاره يې پیدا کړي یو.
**پوښتنه:** مونږ د چا عبادت کوو؟
**ځواب:** د الله تعالی عبادت کوو.
**پوښتنه:** عبادت څه ته وايي؟
**ځواب:** عبادت هغه کار ته وايي، چې الله تعالی پرې راضي کېږي.
**پوښتنه:** مونږ لمونځ، روژه، زکات، حج، قرباني او نذر د چا لپاره کوو؟
**ځواب:** د الله تعالی لپاره يې کوو.
**پوښتنه:** مونږ د الله تعالی عبادت په څه طریقه کوو؟
**ځواب:** په هغه طریقه يې کوو، چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم مونږ ته ښودلې دی.
**پوښتنه:** مونږ ولې د الله تعالی عبادت کوو؟
**ځواب:** ځکه چې الله تعالی مونږ پیدا کړي یو او هغه زمونږ خالق دی.

# اسلام

**پوښتنه:** مونږ څوک یو؟
**ځواب:** مونږ مسلمانان یو.
**پوښتنه:** زمونږ د دین نوم څه شی دی؟
**ځواب:** زمونږ د دین نوم اسلام دی.
**پوښتنه:** د الله تعالی په نزد صحیح دین کوم یو دی؟
**ځواب:** د الله تعالی په نزد صحیح دین اسلام دی.
**پوښتنه:** زمونږ لپاره دا دین چا غوره کړی دی؟
**ځواب:** الله تعالی غوره کړی دی.
**پوښتنه:** اسلام څه شی دی؟
**ځواب:** د الله تعالی وروستنی دین دی، چې محمد صلی الله علیه وسلم راوړی دی.
**پوښتنه:** الله تعالی د اسلام دین ولې رالیږلی دی؟
**ځواب:** ځکه چې دا دین په نورو دینونو باندې کامیاب شي
**پوښتنه:** اسلام څو بناوې لري؟
**ځواب:** پنځه بناوې لري.
**پوښتنه:** د اسلام پنځه بناوې کومې دي؟
**ځواب:** د اسلام پنځه بناوې دا دي: کلمه طیبه، لمونځ، روژه، زکات، حج.

**پوښتنه:** کلمه طیبه کومه یوه ده؟
**ځواب:** کلمه طیبه دا ده: لَا اِلٰهَ اِلَّا الله مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله.
**پوښتنه:** که څوک د اسلام له یوې بناء څخه منکر شي، هغې ته څه وایي؟
**ځواب:** هغه ته کافر وایي.

# ایمان

**پوښتنه:** مونږ څوک یو؟
**ځواب:** مونږ مؤمنان یو.
**پوښتنه:** ایمان څه ته وایي؟
**ځواب:** ایمان په لغت کې تصدیق او باور ته وایي، او په اصطلاح کې په زړه یقین، په ژبه اقرار او د بدن په غړو باندې عمل کولو ته ایمان وایي.
**پوښتنه:** د ایمان ارکان څو دي؟
**ځواب:** د ایمان ارکان شپږ دي.
**پوښتنه:** هغه شپږ ارکان کوم ، کوم دي؟
**ځواب:** هغه شپږ ارکان دا دي:
۱- په الله تعالی ایمان درلودل.
۲- دالله تعالی په ملایکو ایمان درلودل.

۳ - د الله تعالی په کتابونو ایمان درلودل.
۴ - د الله تعالی په رسولانو ایمان درلودل.
۵ - د اخرت په ورځ ایمان درلودل.
۶ - د الله تعالی په قضاء او قدر باندې ایمان درلودل.
**پوښتنه:** ایمان زیاتیږي او که کمیږي؟
**ځواب:** په نیکو عملونو کولو سره ایمان زیاتیږي او د بد عملونو په کولو سره ایمان کمیږي.
**پوښتنه:** که څوک د ایمان له شپږو ارکانو څخه منکر شي، څه کیږي؟
**ځواب:** کافر کیږي.

# ملايکې

پوښتنه: ملايکې څوک دي؟
ځواب: ملايکې د الله تعالی نوراني مخلوق دی.
پوښتنه: ملايکې الله تعالی له څه شي نه پيدا کړي دي؟
ځواب: ملايکې الله تعالی له نور څخه پيدا کړي دي.
پوښتنه: ملايکې څه کارونه کوي؟
ځواب: د الله تعالی په امر ملايکې ډېر کارونه کوي، لکه د الله تعالی عبادت، د بنده ګانو عملونه ليکل، د جنت او دوزخ مراقبت کول او په قبرونو کې پوښتنې کول.
پوښتنه: د ملايکو شمېر څومره دی؟
ځواب: د ملايکو شمېر ډېر زيات دی، يوازې الله تعالی ته معلوم دی.
پوښتنه: مقربې ملايکې څو دي؟
ځواب: مقربې ملايکې څلور دي.
پوښتنه: هغه څلور مقربې ملايکې کومې دي؟
ځواب: هغه دا دي: ۱- جبرائيل عليه السلام، ۲- عزرائيل عليه السلام، ۳- ميکائيل عليه السلام، ۴- اسرافيل عليه السلام.

پوښتنه: د جبرائیل علیه السلام څه وظیفه ده؟
ځواب: پیغمبرانو علیهم السلام ته وحی راوړل.
پوښتنه: د عزرائیل علیه السلام څه وظیفه ده؟
ځواب: د انسانانو او ساه لرونکو حیواناتو روحونه اخیستل.
پوښتنه: د میکائیل علیه السلام څه وظیفه ده؟
ځواب: بارانونه کول.
پوښتنه: د اسرافیل علیه السلام څه وظیفه ده؟
ځواب: د قیامت په ورځ باندې د شپېلۍ پو کول.
پوښتنه: ملایکې له انسانانو سره څه کوي؟
ځواب: د انسانانو ښه او بد علمونه لیکي.
پوښتنه: د انسانانو د عملونو لیکونکي ملایکې څه نومېږي؟
ځواب: کرام الکاتبین نومېږي.
پوښتنه: که څوک له ملایکو څخه منکر شي، څه کېږي؟
ځواب: کافر کېږي.

# اسماني كتابونه

پوښتنه: اسماني كتابونه څو دي؟

ځواب: اسماني كتابونه يو سل او څلور (۱۰۴) دي، چې لوی لوی ته يې كتابونه او وړو ته يې صحيفې وايي.

پوښتنه: الله تعالى څو لوی اسماني كتابونه نازل كړي دي؟

ځواب: څلور لوی كتابونه يې نازل كړي دي.

پوښتنه: د څلورو لويو كتابونو نومونه كوم كوم دي؟

ځواب: ۱- تورات، ۲- انجيل، ۳- زبور، ۴- قران كريم.

پوښتنه: تورات په چا باندې نازل شوی دی؟

ځواب: په موسى عليه السلام باندې نازل شوی دی.

پوښتنه: انجيل په چا باندې نازل شوی دی؟

ځواب: په عيسى عليه السلام باندې نازل شوی دی.

پوښتنه: زبور په چا باندې نازل شوی دی؟

ځواب: په داود عليه السلام باندې نازل شوی دی.

پوښتنه: قران كريم په چا باندې نازل شوی دی؟

ځواب: په محمد صلى الله عليه وسلم باندې نازل شوی دی.

پوښتنه: مونږ په كومو كتابونو باندې ايمان لرو؟

ځواب: مونږ په ټولو اسماني كتابونو باندې ايمان لرو.

پوښتنه: مونږ په كوم كتاب باندې عمل كوو؟

خواب: مونږ په قران کريم باندې عمل کوو.
پوښتنه: مونږ ولې په نورو اسماني کتابونو عمل نه کوو؟
خواب: ځکه چې هغه کتابونه د نورو پخوانيو امتونو لپاره وه، هغه اوس منسوخ شوي دي.
پوښتنه: که څوک له اسماني کتابونو څخه منکر شي، څه کيږي؟
خواب: کافر کيږي.

# قران کريم

پوښتنه: قران کريم د چا کتاب دی؟
خواب: د الله تعالى کتاب دی.
پوښتنه: له ټولو نه وروستنی نازل شوی کتاب کوم يو دی؟
خواب: قران کريم دی.
پوښتنه: قران کريم څرنګه کتاب دی؟
خواب: له ټولو نه رښتينی او غوره کتاب دی.
پوښتنه: قران کريم په کومه ژبه باندې نازل شوی دی؟
خواب: په عربي ژبه باندې نازل شوی دی.
پوښتنه: قران کريم په کومه مياشت او شپه کې نازل شوی دی؟
خواب: د روژې په مياشت او د قدر په شپه کې نازل شوی دی.
پوښتنه: د قران کريم لومړۍ وحې په کوم ځای کې نازله شوې ده؟

**ځواب:** د حراء په غار کې.
**پوښتنه:** قران کريم څو سيپارې لري؟
**ځواب:** دېرش (۳۰) سيپارې لري.
**پوښتنه:** قران کريم څو سورتونه لري؟
**ځواب:** يو سل او څوارلس (۱۱۴) سورتونه لري.
**پوښتنه:** د قران کريم د (۱۱۴) سورتونو څخه څو مکي او څو مدني دي؟
**ځواب:** (۸۸) مکي او (۲۶) مدني دي.
**پوښتنه:** قران کريم څو ايتونه لري؟
**ځواب:** قران کريم (۶۶۶۶) ايتونه لري.
**پوښتنه:** قران کريم څو رکوعګانې لري؟
**ځواب:** (۵۴۰) رکوعګانې لري.
**پوښتنه:** په قران کريم کې د تلاوت څو سجدې دي؟
**ځواب:** څوارلس (۱۴) سجدې دي.
**پوښتنه:** د قران کريم له ټولو نه لوی سورت کوم يو دی؟
**ځواب:** سورت البقره ده.
**پوښتنه:** د قران کريم له ټولو نه وړوکی سورت کوم يو دی؟
**ځواب:** سورت الکوثر دی.

پوښتنه: که څوک له قران کريم څخه منکر شي، څه کېږي؟
ځواب: کافر کېږي.

## پيغمبران عليهم السلام

پوښتنه: نبي چاته وايي؟
ځواب: نبي هغه چاته وايي، چې نوی کتاب او شريعت ورکړای شوی او يا نه وي ورکړای شوی، بلکې د پخواني کتاب او شريعت پيرو وي.
پوښتنه: رسول چاته وايي؟
ځواب: رسول هغه چاته وايي، چې نوی کتاب او شريعت ورکړای شوی وي.
پوښتنه: دنيا ته څومره پيغمبران عليهم السلام راغلي دي؟
ځواب: دنيا ته تقريباً يو لک او څلورويشت زره پيغمبران عليهم السلام راغلي دي.
پوښتنه: لومړی نبي څوک دی؟
ځواب: لومړی نبي ادم عليه السلام دی.
پوښتنه: لومړی رسول څوک دی؟
ځواب: لومړی رسول نوح عليه السلام دی.
پوښتنه: په قران کريم کې د څو پيغمبرانو عليهم السلام نومونه ذکر شوي دي؟

ځواب: په قران کريم کې د پنځه ويشتو (۲۵) پيغمبرانو عليهم السلام نومونه ذکر شوي دي.

پوښتنه: اولوالعزم پيغمبران عليهم السلام څو دي؟

ځواب: پنځه دي، چې نومونه يې دا دي: ۱- نوح عليه السلام، ۲- ابراهيم عليه السلام، ۳- موسى عليه السلام، ۴- عيسى عليه السلام، ۵- محمد صلى الله عليه وسلم.

پوښتنه: وروستنى رسول څوک دى؟

ځواب: محمد صلى الله عليه وسلم دى.

پوښتنه: که څوک له کوم پيغمبر څخه منکر شي، څه کېږي؟

ځواب: کافر کېږي.

# محمد صلی الله علیه وسلم

پوښتنه: زمونږ د پیغمبر څه نوم دی؟
ځواب: محمد صلی الله علیه وسلم.
پوښتنه: محمد صلی الله علیه وسلم په کوم ځای کې پیدا شوی دی؟
ځواب: په مکه مکرمه کې پیدا شوی دی.
پوښتنه: محمد صلی الله علیه وسلم کله پیدا شوی دی؟
ځواب: د ربیع الاول د میاشتې په نهمه د دوشنبې په ورځ ، د (۵۷۱) میلادي کال چې د اپریل د میاشتې د (۲۲) نیټې سره سمون خوري پیدا شوی دی.
پوښتنه: محمد صلی الله علیه وسلم په کومه قبیله کې پیدا شوی دی؟
ځواب: د عربو په مشهوره قبیله قریشو کې پیدا شوی دی.
پوښتنه: د محمد صلی الله علیه وسلم مور او پلار څه نومېدل؟
ځواب: پلار یې عبدالله او مور یې بي بي امنه نومېدله.
پوښتنه: د محمد صلی الله علیه وسلم نیکه څه نومېده؟
ځواب: عبدالمطلب نومېده.
پوښتنه: د محمد صلی الله علیه وسلم پلار کله وفات شوی وو؟
ځواب: د محمد صلی الله علیه وسلم له پیدایښت نه دوه

مياشتې مخکې وفات شوی وو.
**پوښتنه:** د محمد صلی الله عليه وسلم مور کله وفات شوې وه؟
**ځواب:** کله چې محمد صلی الله عليه وسلم د شپږ کلنۍ عمر ته ورسيده مور يې وفات شوه.
**پوښتنه:** محمد صلی الله عليه وسلم لومړی نکاح د کومې بي بي سره کړې وه؟
**ځواب:** د خديجې بنت خويلد رضي الله عنها سره يې کړې وه.
**پوښتنه:** محمد صلی الله عليه وسلم په څو کلنۍ کې په پيغمبرۍ باندې مبعوث شو؟
**ځواب:** په څلوېښت کلنۍ کې.
**پوښتنه:** محمد صلی الله عليه وسلم د بعثت نه وروسته په مکه کې څو کاله تېر کړي وه؟
**ځواب:** ديارلس کاله.
**پوښتنه:** محمد صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کې څو کاله تېر کړي وه؟
**ځواب:** لس کاله.
**پوښتنه:** محمد صلی الله عليه وسلم کله وفات شو؟
**ځواب:** محمد صلی الله عليه وسلم د هجرت په يوولسم (١١) کال د ربيع الاول د مياشتې په دولسمه (١٢) نېټه وفات شو.

# د قيامت ورځ

**پوښتنه:** د قيامت ورځ کومې ورځې ته وايي؟
**ځواب:** د قيامت ورځ هغې ورځې ته وايي، چې په هغې ورځ به انسانان، حيوانات، غرونه، اسمانونه او د دنيا هر شی به ټوټه ټوټه شي او له منځه به لاړ شي.
**پوښتنه:** ايا د قيامت په ورځ ايمان ضروري دی؟
**ځواب:** هو؛ د قيامت په ورځ ايمان ضروري دی.
**پوښتنه:** د قيامت په ورځ به څو ځلې شپېلۍ پوکول (وهل) کېږي؟
**ځواب:** دوه ځلې.
**پوښتنه:** په لومړي ځل شپېلۍ پوکولو (وهلو) سره به څه وشي؟
**ځواب:** کله چې لومړی ځلې شپېلۍ وپوکول (ووهل) شي، ټول مخلوقات به مړه شي.
**پوښتنه:** په دويم ځلې شپېلۍ پوکولو سره به څه وشي؟
**ځواب:** کله چې دويم ځلې شپيلۍ وپوکول شي ټول مخلوقات به را ژوندي شي.
**پوښتنه:** قيامت به کله راځي؟
**ځواب:** يوازې الله تعالی پرې پوهېږي، چې قيامت به کله راځي.

**پوښتنه:** د قيامت په ورځ به د څه شي پوښتنه کېږي؟
**ځواب:** د ښو او بدو کارونو پوښتنه به کېږي.
**پوښتنه:** کله چې يو سړی ښه کار وکړي، چېرته ځي؟
**ځواب:** جنت ته ځي.
**پوښتنه:** کله چې يو سړی بد کار وکړي، چېرته ځي؟
**ځواب:** دوزخ ته ځي.
**پوښتنه:** د قيامت ځينې لويې نښې او علامې کومې دي؟
**ځواب:** ۱- د دجال راوتل، ۲- د ياجوج او ماجوج راوتل، ۳- د عيسی عليه السلام له اسمان څخه راکوزېدل، ۴- د لوېديځ له طرفه د لمر راختل.
**پوښتنه:** د قيامت په ورځ به لومړی د څه شي پوښتنه کېږي؟
**ځواب:** د قيامت په ورځ به لومړی د لمانځه او د ناحقه قتل پوښتنه کېږي.
**پوښتنه:** که څوک له قيامت څخه منکر شي، څه کېږي؟
**ځواب:** کافر کېږي.

# حوض کوثر

**پوښتنه:** حوض کوثر څه ته وايي؟

**ځواب:** حوض د اوبو غونډېدلو ځای ته وايي، او کوثر زياتوالي، لويې دلې او ټولي ته وايي، ځکه ورته حوض کوثر وايي، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم امتيان به دلته دلې دلې خروپيږي.

**پوښتنه:** د کوثر حوض څومره پراخه دی؟

**ځواب:** د کوثر حوض دومره پراخه دی، چې له يو سر څخه يې بل سر ته يوه مياشت فاصله ده.

**پوښتنه:** د حوض کوثر اوبه څه قسم دي؟

**ځواب:** له شيدو نه سپينې، له شاتو نه خوږې او له مشکو څخه ډېرې خوشبويه دي.

**پوښتنه:** د حوض کوثر اوبه به څوک خلکو ته ورکوي؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله عليه وسلم.

**پوښتنه:** د حوض کوثر جامونه څه قسم او څومره دي؟

**ځواب:** جامونه يې له سرو او سپينو زرو څخه جوړ شوي دي او شمېر يې د اسمان د ستورو نه ډېر دی.

# پل صراط

**پوښتنه:** صراط څه ته وايي؟
**ځواب:** صراط لويې لارې ته وايي.
**پوښتنه:** پل صراط څه ته وايي؟
**ځواب:** پل صراط هغه پل ته وايي، چې په جهنم به لپاسه کېښودل کېږي.
**پوښتنه:** په پل صراط باندې به څوک تېرېږي او چېرته به ځي؟
**ځواب:** د ايمان خاوندان به ورځخه تېرېږي او جنت ته به ځي
**پوښتنه:** په پل صراط باندې به مؤمنان څرنګه تېرېږي؟
**ځواب:** د برق د پړک په شان به ورباندې تېرېږي
**پوښتنه:** له ټولو ځخه لومړی به څوک په پل صراط تېرېږي؟
**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم

# جنت

پوښتنه: جنت څه ته وايي؟

ځواب: جنت شين باغ ته وايي.

پوښتنه: جنت څه شی دی؟

ځواب: جنت د الله تعالی د همېشني نعمتونو، رحمتونو او سلامتی ځای دی، چې الله تعالی د مؤمنانو لپاره پیدا کړی دی.

پوښتنه: الله تعالی جنت کله پیدا کړی دی؟

ځواب: الله تعالی جنت د مخلوقاتو د پیدایښت څخه مخکې پیدا کړی دی.

پوښتنه: ایا جنت اوس هم موجود دی؟

ځواب: هو! اوس هم موجود دی.

پوښتنه: په جنت کې څه شی وي؟

ځواب: په جنت کې ډېرې ښکلې ماڼۍ او ښایسته باغونه وي.

پوښتنه: جنت د چا لپاره دی؟

ځواب: جنت د هغه چا لپاره دی، چې په الله تعالی ایمان ولري او نېک کارونه کوي.

پوښتنه: د جنت مشهور نومونه څو دي؟

**ځواب:** اووه (۷) دي: ۱- دار السلام، ۲- دار الیقین، ۳- الفردوس، ۴- جنة عدن، ۵- جنة الماوى، ۶- جنة الخلد، ۷- جنة النعیم.

**پوښتنه:** د جنت څو دروازې دي؟

**ځواب:** د جنت اته دروازې دي.

**پوښتنه:** د جنت څو درجې دي؟

**ځواب:** سل درجې دي.

**پوښتنه:** په جنت کې به جنتیان څو کلن وي؟

**ځواب:** دېرش او یا درې دېرش کلن او همېشه به ځوانان وي

**پوښتنه:** جنت ته به لومړی څوک داخلېږي

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم.

**پوښتنه:** که څوک له جنت څخه منکر شي څه کېږي؟

**ځواب:** کافر کېږي.

# دوزخ

**پوښتنه:** دوزخ څه ته وايي؟
**ځواب:** دوزخ ژوري کندي ته وايي.
**پوښتنه:** دوزخ څه شی دی؟
**ځواب:** دوزخ د عذاب او سختی ځای دی، چې الله تعالی د کافرانو، منافقانو او ګناهګارو خلکو لپاره جوړ کړی دی.
**پوښتنه:** الله تعالی دوزخ کله پیدا کړی دی؟
**ځواب:** الله تعالی دوزخ د مخلوقاتو له پيدايښت څخه مخکې پيدا کړی دی.
**پوښتنه:** ايا دوزخ اوس هم موجود دی؟
**ځواب:** هو! دوزخ اوس هم موجود دی.
**پوښتنه:** د دوزخ مشهور نومونه کوم کوم دي؟
**ځواب:** ۱- النار، ۲- جهنم، ۳- جحيم، ۴- سعير، ۵- سقر، ۶- حطمه، ۷- دار البوار.
**پوښتنه:** د دوزخ څو دروازې دي؟
**ځواب:** د دوزخ اووه دروازې دي.
**پوښتنه:** دوزخ څومره ژور دی؟
**ځواب:** دوزخ دومره ژور دی، چې په دوزخ کې ورلوېدونکې

تیره شپېتو کالو پورې لاندینۍ برخې ته رسېږي.

پوښتنه: منافقین به د دوزخ په کومه طبقه کې وي؟

ځواب: په تیټه طبقه کې به وي.

پوښتنه: ایا دوزخ ته تلونکي به په دوزخ کې د همېشه لپاره وي؟

ځواب: مشرک او منافق به په دوزخ کې د همېشه لپاره وي.

پوښتنه: ایا مسلمان انسان دوزخ ته ځي؟

ځواب: هو؛ هغه مسلمان چې ګناه وکړي دوزخ ته ځي.

پوښتنه: که یو مسلمان دوزخ ته لاړ شي، بېرته به جنت ته نه ځي؟

ځواب: دوزخ کې به خپله سزا ګوري، بیا به وروسته جنت ته ځي.

پوښتنه: که څوک له دوزخ څخه منکر شي، څه کېږي؟

ځواب: کافر کېږي.

# تقدير

**پوښتنه:** تقدير په لغت کې څه ته وايي؟
**ځواب:** تقدير په لغت کې اندازې ته وايي، او په اصطلاح کې دې ته وايي، چې الله تعالى د خپل علم او د حکمت د غوښتنې له مخې د مخلوقاتو لپاره ټاکلى دى.
**پوښتنه:** د خير او شر اندازه د چا له لوري مقرر شوې ده؟
**ځواب:** د الله تعالى له لوري مقرر شوې ده.
**پوښتنه:** په تقدير باندې ايمان درلودل څو شيانو ته شاملېږي؟
**ځواب:** په تقدير باندې ايمان درلودل څلورو شيانو ته شاملېږي:
**لومړى:** په دې ايمان درلودل چې الله تعالى له ازل څخه تر ابده پورې په هر شي پوهېدونکى دى.
**دويم:** په دې باندې ايمان درلودل چې الله تعالى خپل علم په لوح محفوظ باندې ليکلى.
**درېيم:** په دې باندې ايمان درلودل چې څه شوي، څه کېږي او څه کېدونکي دي نو دا ټول د الله تعالى د ارادې او مشيت سره سم ترسره کېږي.
**څلورم:** په دې باندې ايمان درلودل، چې الله تعالى د دې ټولو مخلوقاتو په ذات، خصوصياتو او حرکاتو په اړه پوه دى.

پوښتنه: ايا دا صحيح ده، چې مونږ په تقدير باندې باور او بروسه وکړو او نيک کارونه پرېږدو ، چې دا په تقدير کې ليکلي و؟

ځواب: نه! مونږ ته په تقدير باندې د باور کولو له امله نيک کارونه پرېښودل نه دي په کار ځکه، چې الله تعالی مونږ ته د عمل کولو حکم کړی دی.

پوښتنه: په تقدير باندې ايمان درلودل څه شی دی؟

ځواب: په تقدير باندې ايمان فرض دی.

پوښتنه: که څوک له تقدير څخه منکر شي څه کېږي؟

ځواب: کافر کېږي.

# صحابه کرام رضي الله عنهم

**پوښتنه:** صحابي چاته وايي؟
**خواب:** صحابي هغه چاته وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يې ليدلی وي، ايمان يې پرې راوړی وي او د ايمان په حالت کې وفات شوی وي.
**پوښتنه:** صحابه کرام رضي الله عنهم څه قسم خلک وو؟
**خواب:** صحابه کرام رضي الله عنهم د ټول امت څخه غوره خلک وو؟
**پوښتنه:** په قران کريم د صحابه وو کرامو رضي الله عنهم په اره کوم ايت نازل شوی دی؟
**خواب:** په قران کريم کې د صحابه وو، په اره دا ايت نازل شوی دی: ﴿رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾. (المايده: ۱۱۹)
**ژباړه:** الله تعالی له هغو نه راضي شو او هغوی له الله تعالی نه خوښ شول.
**پوښتنه:** راشده خليفه ګان څو دي؟
**خواب:** راشده خليفه ګان څلور دي: ۱- ابوبکر صديق رضي الله عنه ، ۲- عمر بن خطاب رضي الله عنه، ۳- عثمان بن عفان رضي الله عنه، ۴- علي بن ابي طالب رضي الله عنه.
**پوښتنه:** عشره مبشره صحابه څو دي؟

خواب: عشره مبشره صحابه لس دي: ۱- ابوبکر صديق رضي الله عنه ، ۲- عمر بن خطاب رضي الله عنه، ۳- عثمان بن عفان رضي الله عنه، ۴- علي بن ابي طالب رضي الله عنه، ۵- عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه، ۶- سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه، ۷- طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه، ۸- زبير بن عوام رضي الله عنه، ۹- سعيد بن زيد رضي الله عنه، ۱۰- عبيده بن جراح رضي الله عنه.

پوښتنه: کله چې د صحابي نوم واخېستل کوم الفاظ بايد ووايو؟

خواب: کله چې د صحابي نوم واخېستل شي رضي الله عنه الفاظ بايد ووايو.

پوښتنه: څوک چې صحابه وو ته بد ووايي، څه کېږي؟

خواب: ګنهکارېږي

# بیت الله

**پوښتنه:** مسلمانان د لمانځه په وخت کې کوم طرف ته مخه کوي؟

**ځواب:** مسلمانان د لمانځه په وخت کې بیت الله طرف ته مخه کوي.

**پوښتنه:** بیت الله په کوم ځای کې واقع دی؟

**ځواب:** بیت الله په مکه مکرمه کې واقع دی.

**پوښتنه:** د بیت الله نور نومونه کوم دي؟

**ځواب:** د بیت الله نور نومونه ، کعبه او قبله هم ورته وایي.

**پوښتنه:** هغه مسجد چې د بیت الله سره یوځای دی د څه په نامه یادېږي؟

**ځواب:** هغه مسجد د بیت الحرام په نامه سره یادېږي

**پوښتنه:** په بیت الله کې یو خاصه تیږه ده، هغې ته څه وایي؟

**ځواب:** هغې ته حجر الاسود وایي.

**پوښتنه:** مسلمانان بیت الله ته د څه لپاره ځي؟

**ځواب:** مسلمانان بیت الله ته د حج د فریضې د اداء کولو لپاره ځي.

**پوښتنه:** په بیت الله کې یو لمونځ کول د نورو مسجدونو څخه څو درجې زیات ثواب لري؟

**ځواب:** په بيت الله کې يو لمونځ کول د نورو مسجدونو څخه سل زره درجې زيات ثواب لري.

## نبوي مسجد

**پوښتنه:** نبوي مسجد کوم مسجد ته وايي؟
**ځواب:** نبوي مسجد د محمد صلی الله عليه وسلم مسجد ته وايي.
**پوښتنه:** نبوي مسجد چېرته واقع دی؟
**ځواب:** نبوي مسجد د سعودي عربستان د مدينې منورې په ښار کې واقع دی.
**پوښتنه:** د نبوي مسجد لومړی امام څوک و؟
**ځواب:** د نبوي مسجد لومړی امام محمد صلی الله عليه وسلم و.
**پوښتنه:** د نبوي مسجد لومړی مؤذن څوک و؟
**ځواب:** د نبوي مسجد لومړی مؤذن بلال رضي الله عنه و.
**پوښتنه:** په نبوي مسجد کې يو لمونځ کول د نورو مسجدونو څخه څو درجې زيات ثواب لري؟
**ځواب:** په نبوي مسجد کې يو لمونځ کول د نورو مسجدونو څخه زر درجې زيات ثواب لري

# اسلامي میاشتې

پوښتنه: یو کال څو میاشتې دی؟
ځواب: یو کال دولس میاشتې دی.
پوښتنه: د دولسو اسلامي میاشتو نومونه کوم کوم دي؟
ځواب: د دولسو اسلامي میاشتو نومونه دا دي: ۱- محرم الحرام، ۲-صفر المظفر، ۳-ربیع الاول، ۴-ربیع الثاني، ۵-جمادي الاولی، ۶-جمادي الثاني، ۷-رجب المرجب، ۸- شعبان المعظم، ۹-رمضان المبارک، ۱۰-شوال، ۱۱-ذوالقعده، ۱۲-ذوالحجه.
پوښتنه: اسلامي کال د کومې میاشتې څخه شروع کېږي؟
ځواب: اسلامي کال د محرم الحرام له میاشتې څخه شروع کېږي.
پوښتنه: مسلمانان په کوم میاشت کې روژه نیسي؟
ځواب: مسلمانان د رمضان په میاشت کې روژه نیسي.

# اسلامي مذهبونه

**پوښتنه:** د اهل السنت والجماعت مذهبونه څو دي؟

**ځواب:** څلور دي.

**پوښتنه:** هغه څلور مذهبونه کوم کوم دي؟

**ځواب:** ۱- امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب، ۲- د امام شافعي رحمه الله مذهب، ۳- د امام مالک رحمه الله مذهب، ۴- د امام احمد بن حنبل رحمه الله مذهب.

**پوښتنه:** ته د چا په مذهب یې؟

**ځواب:** زه د امام ابوحنیفه رحمه الله په مذهب یم.

**پوښتنه:** زمونږ د مذهب امام څه نومیږي؟

**ځواب:** زمونږ د مذهب امام ابوحنیفه رحمه الله دی، چې اصلي نوم یې نعمان بن ثابت دی.

**پوښتنه:** امام ابوحنیفه رحمه الله د هجرت په کوم کال زیږیدلی و او په څوم کال وفات شوی دی؟

**ځواب:** امام ابوحنیفه د هجرت په (۸۰) کال په کوفه کې زیږیدلی او د هجرت په (۱۵۰) کال وفات شوی دی.

**پوښتنه:** د اهل السنت والجماعت د څلورو مذهبونو څه حکم دی؟

**ځواب:** دا څلور واړه مذهبونه حق او ثابت دي.




مکتبة المسلم
MAKTABA AL MUSLIM
0788689853 | 0778080490
muslim_pub@yahoo.com
مسلم
جلال اباد - افغانستان